د الله ﷻ د مبارکو نومونو ګټي ...

هر مسلمان يې بايد شير کړئ.
د ثواب په خاطر ...
ياالله

1.د الله پاک ذاتي نوم : څوک چي هره ورځ زر ځله يا اللهووايي انشا الله د زړه څخه په يې ټول شکونه او وسوسي ليري سي د عزم او يقين قوت به ورنصيب سي او که کوم په ناعلاجه ناروغی اخته کس د يا الله ډير ذکر وکړي او وروسته د شفا دعا وغواړي نو هغه ته به کامله شفا نصيب سي

يارحمن

2.ای ډير رحم کوونکيه ! که څوک هره ورځ د هر لمانځه وروسته زر ځله يا رحمن ووايي انشا الله د زړه څخه به يې هر قسم سختي او غفلت ليري سي .

يا رحيم

3.ای ډير مهربانه ! که څوک هره ورځ د هر لمانځه وروسته سل ځله يا رحيم ووايي د ټولو دنيوي افتونو څخه به و ژغورل سي او ټول مخلوق به پرده مهربان سي انشا الله .

ياملک

4.ای حقيقي پاچا ! هره ورځ د سهار تر لمانځه وروسته ډير ځله يا ملک ويونکی به الله تعالي غني کړي انشا الله .

يا قدوس

5.ای د هر عيبه پاک خدايه ! که څوک هره ورځ د زوال وروسته دغه اسم ډير ووايي انشا الله د هغه زړه به د روحي ناروغيو څخه وژغورل سي .

يا سلام

Ketabton.com

6.ای بې عيبه ذاته ! هغه څوک چي دغه اسم ډير وايي انشاالله د ټولو افتونو څخه به و ساتل سي او که څوک د غه اسم ۱۱۵ ځله وواى او پر ناروغ يې دم کړي الله به هغه ته شفا ورنصيب کړي

يا مومن

7.ای امن او ايمان ورکوونکيه ! که څوک د بيري په حالت کي د غه اسم ٦٣٠ ځله وواى انشا الله د هر ډول بيري او تاوان څخه به و ساتل سي او که څوک دغه اسم ووايي او ويي ليکي د ځآن سره يې وساتي د هغه ظاهر او باطن به د الله تعالي په حفاظت کي وي .

يا مهيمن

8.ای ساتونکيه ! که څوک د غسل وروسته دوه رکعته لمونځ وکړي او سل ځله د غه اسم ووايي الله به د هغه باطن او ظآهر پاک کړي .

يا عزيز

ketabton.com - The Digital Library

9.ای پر ټولو غالب خدایه ! که څوک ٤٠ ورځې ٤٠ ځله دغه اسم مبارک ووايي الله تعالي به هغه عزتمند او مستغني کړي . او که څوک د سهار د لمانځه وروسته ٤١ ځله دغه اسم مبارک وواي هغه به انشا الله د چا محتاج نسي او د ذلت وروسته به عزت و مومي .

ياجبار

10.ای تر ټولو زبردست خدايه ! که څوک هره ورځ سهار او ماښآم ٢٢٦ ځله دغه اسم مبارک و وايي هغه به انشا الله د ظالمانو د ظلم څخه وژغورل سي . او که څوک د سپينو زرو پر ګوتمی دغه اسم وليکي او په ګوته يي کړي د هغه هيبت او شان به د خلکو په زړو نو کي راسي .

يامتکبر

11.ای د لويي او بزرګی خاونده ! څوک چي دا اسم مبآرک ډير ځله ووای الله به هغه ته عزت او بزرګي ورکړي او که څوک د يو کار په پيل کي دغه اسم ډير ځله وويل سي انشا الله په هغه کار کي به بريالی سي

ياخالق

12.ای پيدا کوونکيه ! که څوک دغه اسم مبارک ٧ ورځي پرله پسي سل ځله ووايي انشا الله د ټولو افتونو څخه به وژغورل سي او که څوک دا اسم مبارک تل ذکر کوي نو الله تعالي به يوه ملايکه پيدا کړي چي دده لپاره به هميشه عبادت کوي .

يا باري

13.ای پيدا کوونکيه او روح ورکونکيه ! که کومه ښځه اولاده ښځه اوه روژې ونيسي او د هر روژمات پروخت ( يا خالق ، يا باري ، يا مصور ) ٢١ ځله ووايي او پر يو ګلاس اوبو يي دم کړي او په هغه اوبو روژه ماته کړي انشا الله خدای به اولاد ورکړي

يامصور

14. ای صورت جوړونکيه او روح ورکوونکيه ! که کومه بې اولاده ښځه اوه روژې ونيسي او د هر روژمات پروخت ( يا خالق ، يا باري ، يا مصور ) ٢١ ځله ووايي او پر يو ګلاس اوبو يي دم کړي او په هغه اوبو روژه ماته کړي انشا الله خدای به اولاد ورکړي

ياغفار

15.ای ډير بخښوونکيه ! که څوک د جمعي د لمانځه وروسته دغه اسم مبارک سل ځله ووايي پر هغه به د مغفرت اثار ښکاره سي او که څوک د مازديګر د لمانځه وروسته هره ورځ يا غفار اغفرلي وايي الله تعالي به هغه د ښښل سوو کسانو په ټولی کي دا خل کړي .

يا قهار

16.ای پر ټولو غالب خدايه ! که څوک د دنيا په محبت اخته وي هغه دي دغه اسم مبارک ډير ووايي انشا الله د دينا محبت به يي له زړه څخه ليري سي او د الله سره به يي محبت پيدا سي .

يا وهاب

ketabton.com - The Digital Library

17.ای هر څه ورکوونکیه ! څوک چي په فقر او مفلیسی اخته وي هغه دي دي دغه اسم ډیر وایي او یا دې ولیکي او د ځان سره دې وساتي یا دي د ځابنت د لمانځه په اخیره سجده کي دا اسم ٤٠ ځله وواي نو الله تعالي به هغه ته خلاصون ورنصیب کړي او که کوم خاص حاجت ولري نو د کور یا مسجد په انګړ کي دي درې ځله سجده وکړي لاسونه دي پورته کړي او سل ځله دي دغه اسم ووایي انشا الله حاجت به یې پوره سي .

یا رزاق

18.ای روزي ورکوونکیه ! که څوک د سهار تر لمانځه مخکي د خپل کور پر څلورو کونجونو لس ځله دغه اسم دم کړي الله تعالي به پر هغه د رزق دروازې خلاصي کړي مریضي او مفلیسي به هیڅ کله د هغه کور ته رانسي ، د راسته کونج څخه دې پیل او مخه پر قیبله دي ودریږي

یا فتاح

19.ای مشکل حل کوونکیه ! که څوک د سهار تر لمانځه وروسته دواړه لاسونه پر سینه کښیږدي او اویا ځله یا فتاح ووایي د هغه زړه به د ایمان په نور منور سي انشا الله

یاعلیم

20.ای د بې اندازې علم خاونده ! څوک چي دا اسم مبارک ډیر وایي الله به په هغه د علم او معرفت دروازې را پرانیزي

یا قابض

21.ای روزي تنګ کوونکیه ! که څوک د ډوډوی پر څلورو ګولو بآندي دغه اسم ولیکي او تر ٤٠ ورځو پوري یې وخوري نو د لوږي ، تندي ، زخم او درد د تکلیف څخه په و ژغورل سي .

یا باسط

22.ای روزي پراخه کوونکیه ! که څوک هره ورځ د ځابنت د لمانځه وروسته د اسمان لوري ته لاسونه پورته کړي او لس ځله دا اسم مبآرک ووایي الله به هغه غني کړي او هیڅکله به د چا محتاج نسي .

یا خافض

23.ای کښته کوونکیه ! که څوک هره ورځ ٥٠٠ ځله یا خافض و وایي الله په د هغه حاجتونه او مشکلات پوره کړي او که څوک درې روژې ونیسي او په څلورمه ورځ یو ځای کښیني او اویا ځله دغه اسم ووایي نو انشا الله پر دښمن به کامیاب سي

یارافع

24.ای لوړوونکیه ! که څوک دغه اسم د هري میاشتي پر څوارلسمه په نیمه شپه کي ١٠٠ ځله و وایي الله به هغه د مخلوق څخه بې نیازه او مستغني کړي .

یا معز

25.ای عزت ورکونکیه ! که څو ک د سه شنبې یا جمعې په ورځ د ماښام د لمانځه وروسته ٤٠ ځله یا معز ووایي الله تعالي به هغه په خلکو کي عزت مند کړي .

یا مذل

ketabton.com - The Digital Library

26.ای ذلت ورکوونکیه ! که څوک ۵۷ ځله دا اسم مبارک ووایي او سر په سجده دعا وکړي الله به هغه د حسد کوونکو ، ظالمانو او دښمنانو له شر څخه وژغوري او که څوک کوم خاص دښمن ولري نو په مسجد کي دي د هغه نوم واخلي او دا دي ووایي ای الله د فلاني ظالم یا دښمن له شره مي وژغوره او دعا دي وکړي انشا الله قبوله به سي .

یا سمیع

27.ای د هر څه اوریدونکیه ! که څوک د پنج شنبي په ورځ د ځاښت تر لمانځه وروسته ۵۰۰ یا ۱۰۰ ځله یا سمیع ووایي انشا الله د هغه دعا وي به قبولي سي مګر په منځ کي به خبري نه کوي . او که څوک د پنجشنبي په ورځ د سهار د سنتو او فرضو په منځ کي سل ځله دا اسم ووایي هغه به الله په خپل خاص نظر سره و نازوي .

یا بصیر

28.ای د هر څه لیدونکیه ! که څوک د جمعي د لمانځه وروسته ۱۰۰ ځله یا بصیر ووایي انشا الله د هغه په زړه کي به نور او رڼا پیدا سي .

یا حکم

29. ای پوره حاکم خدایه ! که چیر څوک د شپي په اخیره کي ۹۹ ځله دغه اسم مبارک په اوداسه ووایي الله به د هغه زړه د انواور او اسرارو ځآی و ګرځوي او که څوک د جمعي په شپه دغه اسم دومره ووایي چي بي حاله سي الله به د هغه زړه په کشف او الهام سره و نازوي .

یا عدل

30.ای پوره انصاف لرونکیه ! که څوک د جمعي په ورځ د ډوډی پر شلو ټوټو العدل ولیکي او ویې خوري انشا الله ټوله مخلوقات به د هغه لپاره مسخر سي .

یا لطیف

31.ای ډیر لطف او کرم کوونکیه ! که څوک ۱۳۳ ځله یا لطیف ووایي انشا الله د هغه په رزق کي به برکت وا چول سي او د هغه ټول کارونه به په ښه توګه تر سره سي . او که څوک په فقر ، غم ، ناروغی او یا کوم بل مصیبت کي را ګیر وي هغه دي اودس وکړي دوه رکعته لمونځ دي وکړي او خپل مقصد دي په خپل زړه کي یاد کړي سل ځله دي دغه اسم ووایي انشاالله مقصد به یي پوره سي .

یا خبیر

32.ای په هرڅه خبر خدایه ! که څوک تر اوو ورځو پوري دغه اسم ډیر ووایي الله به هغه ته پټ رازونه ښکاره کړي او که څوک په نفساني خواهشاتو کي اخته وي هغه دي دغه اسم ډیر ووایي انشا الله خلاصون به ومومي .

یا حلیم

33.ای د ډیر زغم خاونده ! که څوک دغه اسم پر کاغز ولیکي او ابو ته یي واچوي پر کوم شي چي دغه اوبه و پاشي په هغه کي به خیر او برکت پیدا سي او د افتونو څخه به و ساتل سي انشا الله .

یاعظیم

ketabton.com - The Digital Library

34.ای ډېره لويه خدايه ! که څوک دغه اسم ډېر وايي الله به هغه عزت او عظمت ورنصيب کړي اشنا الله

يا غفور

35. ای ډير بخښوونکيه ! که څوک دغه اسم ډير وايي د هغه ټول غمونه او تکليفونه به لري سي په مال او عيال کي به يې برکت ولويږي په حدث شريف کي ذکر دی که څوک په سجده کي درې ځلي يا رب اغفرلي و وايي الله پاک د هغه ټولي ګناوي بخښي انشا الله .

يا شکور

36.ای قدردانه خدايه ! که څوک په غم او يا کوم بل مشکل کي را ګير وي هغه دي دغه اسم ٤١ ځله و وايي د هغه څخه به خلاص سي انشا الله .

يا علي

37.ای ډير لوړ خدايه ! که څوک دغه اسم تل ووايي او ويې ليکي د ځان سره يې و ساتي نو هغه ته به په رتبه کي لوړوالی ، خوشحالي او په مقصد کي کاميابي نصيب سي اشنا الله .

يا کبير

38.ای ډير لوړ خدايه ! که څوک د خپلي دندي څخه ليري کړل سوي وي هغه دي ۷ روژې ونيسي او هره ورځ دي دا اسم مبارک زر ځله ووايي پر خپلي دندي به برقراره سي او برتري به يې نصيب سي انشاالله .

يا حفيظ

39.ای د ټولو ساتونکيه ! که څوک ډير ځله يا حفيظ و وايي او يا يې وليکي د ځآن سره يې ساتي هغه به د هر ډول ويري ، خطر او تاوان څخه وژغورل سي .

يا مقيت

40.ای ټولو ته رزق او قوت ورکوونکه ! که څوک پر خالي لوښي بآندي اوه ځله دغه اسم دم کړي او په هغه کي خپله اوبه و ځيښي يا يې په بل چا و ځښي انشا الله مقصد به يې پوره سي .

يا حسيب

41.ای د ټولو لپاره کافي خدايه ! که چاته له کوم شخص او يا شي څخه ويره وي هغه دي د پنجشنبي څخه پيل تر اتو ورځو پوري سهار مابښام ۷۰ ځله حسبي الله الحسيب ووايي دهر شي د شر څخه په وژغورل سي انشا الله .

يا جليل

42.ای د لوړي مرتبې خاونده ! که څوک په مشق او زعفران بآندي دغه اسم مبارک وليکي او ډير يې ووايي الله پاک به هغه ته عزت او قدر وکړي انشا االله .

يا کريم

43.ای ډير کرم کوونکيه ! که څوک د شپې د بيده کيدو په وخت کي يا کريم و وايي او بيده سي الله پاک به هغه ته په علماوو او

ketabton.com - The Digital Library

صالحينو كي عزت ورنصيب كړي .

يا رقيب

44.ای پوره ساتونکیه ! که څوک دغه اسم مبارک هره ورځ اوه ځله پر خپل اهل ، عيال او مال باندي دم کړي او يا رقيب ډير وايي هغه به د ټولو افتونو څخه و ساتل سي انشا الله .

يا مجيب

45.ای دعا قبلوونکيه ! که څوک يا مجيب ډير وايي د هغه دعاوي به د الله په دربار کي قبولي ګرځي انشا الله .

يا واسيع

46.ای د پراخی خاونده ! څوک چي يا واسع ډير وايي الله پاک به هغه ته ظاهري او باطني غنا ورنصيب کړي انشا الله .

يا حکيم

47.ای د ډير حکمت خاونده ! څوک چي يا حکيم ډير وايي الله تعالي به پر هغه باندي د علم او حکمت دروازې پرانيزي او که د چا کوم کار سر ته نه رسيږي هغه کار به يي تر سره سي .

يا ودود

48.ای ډير محبت کوونکيه ! که څوک زر ځله دغه اسم ووايي او پر ډوډی يي دم کړي او د خپلي ميرمني سره يي وخوري هر ډول خفګان به ختم سي او محبت به يي پيدا سي انشا الله .

يا مجيد

49.ای د لويي خاونده ! که څوک په يوه سخته ناورغی اخته وي هغه دي د مياشتي د ١٣ مي ١٤ مي او ١٥ مي نېټی روژې ونيسي او تر روژمات وروسته دي دغه اسم ډير ووايي او پر اوبو دې دم کي او و دې څښي انشا الله هغه ناورغ به روغتيا ومومي .

يا باعث

50.ای د مړو ته ژوند ورکوونکيه ! که څوک هره شپه د بيديدو پر مهال پر سينه لاس کښيږدي او ١٠١ ځله يا باعث ووايي د هغه زړه به په علم او حکمت ژوندی سي انشا الله .

يا شهيد

51.ای په هر ځای کي حاضر او ناظر خدايه ! که د چا ښځه يا او لاد نا فرمان وي د سهار په وخت کي دي د هغه پرتندي بآندي لاس کښيږدي او ٢١ ځله دي يا شهيد ووايي انشا الله فرمانبردار به سي .

يا حق

52.ای حق او ثابث خدايه ! که څوک د يو څلور کونجه کاغز پر څلورو کونجونو الحق وليکي او د سهار په وخت کي کاغز پر ورغوي کښيږدي او د اسمان لوري ته يي لوړ کړي او دعا دي وکړي ورک سوي کس او يا شی به يي پيدا سي انشا الله .

ketabton.com - The Digital Library

يا وكيل

53.ای کارسازه خدايه ! که څوک د يوه اسماني افت په وخت کي يا وکيل ډير ووايي انشا الله د هر افت څخه به وژغورل سي .

يا قوی

54.ای د لوی طاقت او قوت خاونده ! که څوک مظلوم او کمزوری وي هغه دي د ښمن او طاقوت ور د دفع په نيت دغه اسم مبارک ډير ووايي د هغه څخه به وژغورل سي انشا الله بې ځايه او ناحقه دي دغه عمل هيڅ کله نه کوي .

يا متين

55.ای د پوره قوت څښتنه ! د کومي ښځي چي شيدې نه وي نو دغه اسم دي پر کاغذ وليکي اوبو ته دې واچوي او و دې څښي شيدې به يې ډيري سي انشا الله .

يا ولي

56.ای مرسته کونکيه او حمايت کوونکيه خدايه ! د چا د ښځي چي عادتونه او خصلتونه ښهٔ نه وي هغه دي دغه اسم ډير وايي انشا الله نيکه به سي .

يا حميد

57.ای د ستايني وړ خدای ! څوک چي ٤٥ ورځي پرله پسي ۹۳ ځله يا حميد په تنهايي کي ووايي د هغه ټول بد عادتونه او خصلتونه به ختم سي انشا الله .

يا محصي

58.ای د هر څه په خپل علم او حساب کي لروونکيه خدايه ! څوک چي هره ورځ د ډوډۍ پر شلو ټوټو شل ځله د غه اسم دم کړي او ويې خوري انشا الله مخلوق به ده ته مسخر سي .

يا مبدي

59.ای لومړی ځل پيدا کوونکيه ! څوک چي د حمل داري ښځي پر نس لاس کښيږدي او ۹۹ ځله دغه اسم ووايي د هغې حمل به نه ساقطيږي او نه به يې کوچنی بې وخته پيدا کيږي انشا الله .

يا معيد

60.ای دوهم ځل پيدا کوونکيه ! که يو څوک ورک وي نو کله چي د کور ټول خلک ويده سي د کور پر څلورو کونجانو دي اويا اويا ځله دغه اسم ووايي نو انشا الله ۷ ورځو کي به راسي يا به يې معلومات وسي .

يا محي

61.ای ژوند ورکوونکيه !څوک چي ناورغ وي هغه دي دغه اسم ډير وايي او که بل څوک ناورغ وي نور پر دم دې کړي انشا الله روغ به سي . او که څوک ۸۹ ځله دغه اسم ووايي او پر ځان يې دم کړي انشا الله د هر ډول قيد او بند څخه به خلاص سي .

يا مميت

ketabton.com - The Digital Library

62.ای مرګ ورکوونکیه خدایه ! د چا چې خپل نفس په واک کې نوي هغه دي د بیدیدلو پر مهال پرسینه لاس کښیږدي الممیت دی ووایي او بیده دي سي انشا الله نفس به یې فرمانبرداره سي .

يا حي

63.ای تل تر تله ژوندی خدایه ! څوک چې هره ورځ دري زره ځله دغه اسم ووایي هیڅ کله به ناروغ نسي او که څوک دغه اسم پر چیني لوښي ولیکي او په خوړو اوبو یې پریولي او ویې څښي یا یې په بل ناروغ و څښي انشاالله کامله شفا به ورنصیب سي .

يا قيوم

64.ای د ټولو ساتونکیه او قایموونکیه خدایه ! څوک چې دغه اسم ډیر ووایي انشا الله په خلکو کي به یې عزت او وقار زیات سي او که څوک د سهار د لمانځه وروسته تر لمر ختلو پوري دغه اسم ووایي انشا الله سستي او کهالي به ورنه لیري سي .

يا واجد

65.د هر څه پیدا کوونکیه ! څوک چې د ډوډۍ خوړلو پر وخت یا واجد ووایي نو دده د خوراک چې کومه غذا ده هغه به د ده د زړه لپاره د طاقت قوت او نورانیت سبب سي .

يا ماجد

66.ای د لوېي او عزت خاونده ! څوک چې دغه اسم په تنهایي کي دومره ووایي چې بې حاله سي نو انشاالله د هغه پر زړه به الهي انوار ښکاره سي .

يا واحد

67.ای یواځې یو خدایه ! هر څوک چې هره ورځ زر ځله دغه اسم ووایي د هغه د زړه څخه به د مخلوق مینه او خوف لیري سي او د چا که اولاد نه کیږي هغه دي دغه اسم ولیکي د ځآن سره دې وساتي انشا الله صالح اولاد به ورنصیب سي .

يا احد

68.ای یواځې یو خدایه ! هر څوک چې هره ورح زر ځله دغه اسم ووایي د هغه د زړه څخه به د مخلوق مینه او خوف لیري سي او د چا که اولاد نه کیږي هغه دي دغه اسم ولیکي د ځآن سره دې وساتي انشا الله صالح اولاد به ورنصیب سي .

يا صمد

69.ای بې نیازه ! که څوک د سهار په وخت کي سر پر سجده کښیږدي او دغه اسم ۱۱۵ یا ۱۲۵ ځله ووایي هغه ته به ظاهري او باطني ربښتیا نصیب سي او که څوک دغه اسم په اوداسه تل وایي د مخلوق څخه به بې نیازه سي انشا الله .

يا قادر

70.ای قدرت لرونکیه ! که څوک دوه رکعته لمونځ وکړي او سل ځله القادر ووایي الله به د هغه دښمنان ذلیل او رسوا کړي او که چاته په یو کار کي مشکل وي نو ۴۱ ځله دغه اسم ووایي مشکل به یې حل سي انشا الله .

يا مقتدر

ketabton.com - The Digital Library

71.ای د پوره قدرت لرونکیه ! که څوک د خوب څخه د راپورته کیدو وروسته ډیر یا لږ تر لږه ۲۰ ځله ووایي د هغه ټول کارونه به اسانه او ښه سرته ورسیږي .

یا مقدیم

72.ای مخته کوونکیه ! که څوک د جنګ په وخت کي دغه اسم ډیر وایي انشا الله فتح او قوت به ورنصیب سي او د دښمنانو څخه به خلاص سي .

یا موخر

73.ای وروسته کوونکیه ! څوک چي دغه اسم ډیر وایي هغه ته به رښتوني توبه ورنصیب سي . او که څوک دغه اسم په پابندي سره هره ورځ سل ځله وایي هغه ته به د الله داسي قرب او مینه نصیب سي چي د هغه پرته به ناقراره وي .

یا اول

74.ای تر ټولو اول خدایه ! که د چا نارینه اولاد نه کیږي هغه دي ٤٠ ورځي دغه اسم ووایي انشا الله مراد بهٔ یي پوره سي . که څوک مسافر وي هغه دي د جمعي په ورځ زر ځله دغه اسم ووایي انشا الله په خیر سره به راستون سي .

یا اخر

75.ای تر ټولو اخر خدایه ! که څوک روزانه زر ځله دغه اسم مبارک ووایي انشا الله د هغه د زړه څخه د الله پرته ټوله مینه ختمه سي او اخیره خاتمه به یي په خیر وي .

یا ظاهر

76.ای ظاهر او ښکاره خدایه ! که څوک د اشراق د لمانځه وروسته سل ځله دغه اسم ووایي الله پاک به د هغه په سترګو کي رڼا او په زړه کي نور ورپیدا کړي .

یا باطن

77.ای باطن او پټ خدایه ! که څوک هره ورځ ۳۳ ځله یا باطن ووایي انشا الله پر هغه به باطني اسرار ښکاره سي او حب الهي به ورنصیب سي .

یاوالي

78.ای دوست او ملګری خدایه ! که څوک دغه اسم ډیر وایي هغه به د ناڅاپه افتونو څخه وژغورل سي او که دغه اسم پر یوه لوښي ولیکل سي او د اوبو ډک کړل سي او بیا یي په کور کي و پاشي انشا الله د ټولو افتونو څخه به وژغورل سي .

یا متعال

79.ای تر ټولو لوړ او غوره خدایه ! که څوک دغه اسم ډیر وایي انشا الله ټولي ستونزي به یي حل سي او که ښځه د حیض په وخت کي دغه اسم ډیر ووایي انشا الله تکلیف به یي پورته سي .

یا بر

80.ای ډیر ښه رویه کوونکیه ! که څوک په شرابو ، زنا او نورو ناوړو اعمالو اخته وي هغه دي هره ورځ دغه اسم ۷ ځله

ketabton.com - The Digital Library

ووايي انشا الله د گناهونو سره به يې مينه ختمه سي که څوک د دنيا په محبت اخته وي هغه دي دغه اسم ډير وايي انشا الله د دنيا محبت به يې د زړه څخه ووځي ، او که څوک پر خپل اولاد باندي تر زيړيدو وروسته دغه اسم اوه ځله دم کړي او پر خداى يې و سپاري انشا الله تر بلوغ پوري به د ټولو افتونو څخه وژغورل سي .

يا تواب

81. اى توبه قبلونکيه ! که څوک د ځاښت وروسته دغه اسم ٣٦٠ ځله وايي هغه ته به رښتوني توبه نصيب سي او که څوک دغه اسم ډير وايي د هغه هر کار به اسانه سي که څوک پر يو ظاّلم باندي د غه اسم لس ځله دم کړي انشا الله د هغه د ظلم څخه به وژغورل سي .

يا منتقيم

82.اى غچ يا بدله اخستونکيه ! که څوک پر حق وي او بدل اخستلو توان ونلري درې جمعې دي پرله پسي يا منتقم ډير ووايي الله پاک به پخپله د هغه څخه بدله واخلي .

يا عفو

83.اى ډير عفوه کوونکيه ! څوک چي دغه اسم ډير وايي الله پاک به انشا الله د هغه گناهونه ورمعاف کړي .

يا روف

84.اى ډير شفقت کوونکيه ! څوک چي يا روف ډير وايي الله به مخلوق پر ده او دى پر مخلوق مهربانه کړي او که څوک لس ځله درود شريف او لس ځله دغه اسم ووايي انشا الله د هغه غصه به ختمه سي او که پر بل چا دم کړل سي د هغه غصه به ختمه سي انشا الله .

يا مالک المک

85.اى د ټولو کايناتو مالکه ! څوک چي يا ملک الملک ډير وايي الله پاک به هغه غني او د خلکو څخه به يې بې نيازه کړي .

يا ذلجلال والاکرام

86.اى د جلال او کرم څښتنه ! څوک چي يا ذالجلال والاکرام ډير وايي الله پاک به هغه ته عزت ، عظمت او د مخلوق څخه به بې پروايي ور نصيب کړي انشا الله .

يا مقسط

87.اى عادت او با انصافه خدايه ! که څوک هره ورځ دغه اسم ډير وايي الله پاک به يې د شيطان له وسوسو څخه و ژغوري او که د کوم جايز مقصد لپاره ٧٠٠ ځله دغه اسم مبارک ووايي انشاالله مقصد به يې پوره سي .

يا جامع

88. اى د ټولو جمع کوونکيه ! هر چا چي قريبان سره پاشلي وي هغه دي د ځاښت په وخت کي غسل وکړي او اسمان ته دې مخ کړي لس ځله دي يا جامع ووايي او يوه گوته دي کت کړي او همدارنگه پر هر لسم ځل دي يوه گوته کت کړي په اخر کي دي دواړه لاسونه پر مخ راتير کړي انشا الله قريبان به يې پر ځاى سي او که يو شى ورک سي نو الهم يا جامع الناس ليوم لاريب فيه ) دي ووايي انشا الله هغه شى به يې پيدا سي ددې تر څنگ د جايز محبت لپاره هم دا دعا گټوره ده .

ketabton.com - The Digital Library

يا غني

89.ای بې نیاز او بې پروا خدایه ! که څوک هره ورځ دغه اسم اویا ځله ووایي الله پاک به د هغه په مال کي برکت واچوي او د چا محتاج به نسي .

يا مغني

90.ای بې نیازه او غني کوونکیه ! که څوک د سهار او یا ماخستن د لمانځه وروسته اول او اخرکي درود شریف او وروسته ۱۱۱۱ ځله دغه اسم د وظیفي په شان ووایي او سورت مزمل دي هم تلاوت کړي ، الله پاک به هغه ته ظاهري او باطني غنا ورنصیب کړي .

يا مانع

91.ای منع کوونکیه ! که چیري د خاوند او ښځي تر منځ کومه شخړه پیښه سي نو د بیدیدو پر وخت دي شل ځله دغه اسم ووایي انشا الله شخړه به ختمه سي او څوک چي دغه اسم ډیر وایي انشا الله د هر شر څخه به په امن کي وي .

يا ضار

92.ای پر ضرر رسولو توانا خدایه ! که څوک د جمعي په شپه دغه اسم شل ځله ووایي هغه به انشا الله د هر ډول ظاهري او باطني افتونو څخه و ساتل سي او د الله قرب به ورنصیب سي .

يا نافع

93.ای ګټه رسوونکیه خدایه ! که څوک په کښتی یا کوم بلي سواري کي د کښینستلو وروسته یا نافع ډیر ووایي انشا الله د هر افت څخه به وژغورل سي او که څوک د یو کار په پیل کي ٤١ ځله یا نافع وواي انشا الله هغه کار به یې په خیر تر سره سي .

يا نور

94.ای کامل نور او نور ورکوونکیه ! که څوک د جمعي په شپه اوه ځله سورة نور او زر ځله دغه اسم ووایي انشا الله زړه به یې په نور الهي منور سي .

يا هادي

95.ای د سیده لاري ښوونکیه ! که څوک د اسمان لوري ته لاسونه پورته کړي او یا هادي ډیر ووایي او په اخر کي لاسونه پر مخ راتیر کړي الله به هغه ته پوره هدایت ورنصیب کړي او په اهل معرفت کي به شامل سي انشا الله .

يا بديع

96.ای د بې مثاله شیانو پیدا کوونکیه ! که څوک په یو غم او یا مشکل اخته وي هغه دي زر ځله یا بدیع السموات والارض ووایي انشا الله خلاصون به ومومي او که څوک دغه اسم په اوداسه ووایي او بیده سي د کوم کار چي یې اراده وي هغه به په خوب وویني ، او که څوک د ماخوستن د لمانځه وروسته د یو کار یا مقصد د تر سره کیدلو لپاره دولس سوه ځله یا( بدیع العجایب بالخیریا بدیع ) تر یولسو ورځو پوري ووایي مقصد به یې تر ویلو مخکي پوره سي . انشا الله .

يا باقي

97.ای همیشه موجود خدایه ! که څوک د جمعي په شپه زر ځله دغه اسم ووایي الله به هغه د هر ډول تاوان او ضرر څخه و

ketabton.com - The Digital Library

ساتي او د هغه ټول نیک اعمال به مقبول سي .

یا وارث

98.ای د ټولو ورسته باقي او موجود خدایه ! که څوک د لمر را ختلو پر مهال سل ځله یا وارث ووایي انشا الله د هر غم او مصیبت څخه به وژغورل سي او اخره خاتمه به یې په خیر وي او که څوک د ماښام او ماخوستن په منځ کي دا اسم زرځله ووایي د هر ډول پریشانی څخه به و ساتل سي .

را رشید

99.ای راستي او نیکي خوښوونکیه ! که څوک د خپل یو کار یا مقصد په تدبیر نه پوهیږي هغه دي د ماښام او ما خستن په منځ کي زر ځله یا رشید ووایي . او که څوک هره ورځ دغه اسم ووایي انشا الله ټول مشکلات به یې حل سي په کاربار کي به یې پرمختګ راسي .

یا صبور

100.ای څښتن د ډیر صبر او زغم ! که څوک د لمر را ختلو مخکي دغه اسم سله ځله ووایي هغه به انشا الله په هغه ورځ د هر مصیبت څخه و ساتل سي

ثواب په نیت یي نورو ملګرو سره شریک کړئ!

pdf چاری غمی درویش

۰۰۹۷۱۵۵۵۹۲۰۰۵۸

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*